# د څاڅکو هار

لیکوال: داکټر معمار حشمت الله اتمر

پېښلیک: چنګاښ ۱۴۰۴ لیږدوی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** د ځاځکو هار
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پښتنې ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - چنګاښ / کال ۱۴۰۴
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اځځ
ښوونې ترې د کټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څاڅکو هار
..........................

## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښنتیږ........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ........................................................ ۲
لیکي پوهه:......................................................................... ۳
لړلیک ............................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)......................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:............................................................... ۷
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ............................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لیست..................................................... ۷٥
د کار لاندې کتابونو لیست .................................................... ۷۸
د امکان او وخت په صورت کې................................................. ۷۹
د پخښنتیږ څټ .................................................................. ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

### تراڼ (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات يوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يو بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره شريکه کړم. زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاځکو هار

...........................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ............................................................................

۲- ............................................................................

۳- ............................................................................

۴- ............................................................................

۵- ............................................................................

۶- ............................................................................

۷- ............................................................................

۸- ............................................................................

۹- ............................................................................

۱۰- ..........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

### ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)

پخوا پیرکې د جنت ګل په نامه یوه کس د کابل ولایت پغمان ولسوالۍ کې ژوند کوه.

هغه درې زامن او اووه لورګانې درلودې.

د زامنو نومونه یې ژبړ ګل، سور ګل او انار ګل وو.

جنت ګل په خپل کلي کې یوه هټۍ درلوده.

په هټۍ کې به یې مېوې، ترکاري، شیدې، مستې، کوچ او پنېر خرڅاوه.

هغه، نه په خپله زده کړې، کړې وې او نه پر زامنو یې زده کړې کړې وې.

تولو به په هټۍ کې یو ځای سره کار کوه.

الکان به یې سهار وختي ماجت ته لېږل تر څو الته څه دیني زده کړې وکړي.

هغوی به لمونځونه کوو او د ملا امام نه به یې هم سبکونه ویل.

چا چې به ویل، چې ولې دې په الکانو سبک نه وایې؟

هغه به ویل:

دلته نږدې ښوونځی نه شته.

د یوې خوا زه سپین ږیری یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

...........................

غواړم چې هغوی زما سره په هټۍ او نورو کارونو کې مرسته وکړي.

د بلې خوا د هغوی د ښوونځي خرڅه برابرول هم آسانه کار نه دی.

زه دلته ډېره لږ ځمکه لرم، هغه هم ما ته له پلار نه مې په میراث پاتې ده.

ما هر څه زیار و باسه تر څو پیسې ټولې او څه ځمکه پرې واخلم، خو تر اوسه نه یم توانېدلی.

ورځ په ورځ کېمتي (قیمتي) کېږي، د هر څه نرخونه لوړېږي.

پلارنی کور هم کوچنی دی.

که الکان ځوان او هغوی ته واده وکړم، چېرته به هغوی ته د اوسېدو ځای جوړ کړم.

هغه به سوچونه وهل او څه به یې په لاس نه راتلل.

وختونه تېر شو او د هغه دویم زوی (سور ګل) اته کلن شو.

هغه ډېر زړور او نامنونی (شوخ) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

*

سور ګل د سیل (ساز او سرود) شوکي هم وه، چېرته چې به د چا واده کېده او په هغه کې به سازنده راغلي وو، هغه به هم ځان الته رساوه.

هغه به د کلي د نورو الکانو سره یوځای ته.

هغه به دې ته نه کتل چې:

شپه ده؟

غرمه ده؟

سارې دي؟

ګرمي ده؟

چا بللی دی؟

څه ستونزی به مخ ته راشي؟

څوک به خپه شي؟

بس!

منډی به یې وهې او الته به یې ځان رساوه.

یوه ورځ د هغوی کورته نږدې کلی کې واده وه.

هغه د وادنه یوه ورځ مخکې خبر شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

هغه د کلي نورو ماشومانو سره په دې هکله خبرې وکړې او هغوی ته يې و ويل:

مونږ به هرو مرو په دې واده کې ګډون وکړو.

ښه به دا وي تر ځو پوښتنه وکړو چې په واده کې سازنده شته او که نه؟

الکانو و ويل:

راځئ!

د کلي مشرانو نه پوښتنه وکړو.

ټولو و منه او د کلي نه د باندې شوو.

د ماجت خوا ته روان شو، چېرته به چې سپين ږيري کيناستل او د لمونځ د جمع وخت انتظار به يې کوو.

سورګل مخکې او نور الکان ور پسې شوو.

هغوي ماجت ته ورسېدل.

الکانو مشرانو ته سلام واچوه.

هغوی د الکانو سلام ته وعليکم و ويل:

بيا يوه کس د الکانو نه پوښتنه وکړه او ويې ويل:

خيريت خو به وي چې په دې شين ملا آذان ماجت خوا ته ته راغلي ياست ؟

سورګل لږ نږدې شو او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

مونږ اورېدلي چې سبا شپه په کلي کې واده دی.

کس و ويل:

**هو!**

د انار اکا د زوی واده دی.

سورګل و ويل:

په دې خو، مونږ هم پوهيږو.

کس و ويل:

**خير!**

ستاسو پوښتنه څه ده؟

سورګل و ويل:

مونږ غوښتل پوی شو چې په واده کې سازنده شته او که نه؟

کس و ويل:

په دې خو، زه هم نه پوهيږم.

بيا سورګل و ويل:

**خير!**

څوک په دې پوهيږي؟

کس و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

...........................

په داسو خبرو د کلي نايي (ناين، سلمان) ښه پوهېږي.

سور ګل و ويل:

د کلي نايي چېرته دی؟

کس و ويل:

زه خو نه پوهېږم.

په دې وخت کې يوه بل سپين ږيري غږ کړ.

ما هغه سهار وليد چې بر کلې ته د وېښتانو جوړولو د پاره روان وو.

سور ګل د هغه نه مننه وکړه.

بيا يې نورو الکانو ته و ويل:

راځئ!

اوس څه نږدې شو.

بيا سورګل مخکې او د کلي نور ماشومان و رپسي شو.

هغوی بر کلي ته لاړل.

الته يې د نايي پوښتنه وکړه.

يوه کس ورته و ويل:

هغه د انار ما ما باغ د ديوال څنګ (شا) ته ناست او کلي د الکانو وېښتان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

هغوی د نايي خوا ته لاړل.

لمړی يې ټولو ته سلام واچاوه.

نايي چې له نورو نه مشر و، د الکانو سلام ته يې وعليکم و ويل.

بيا نايي و ويل:

دلته په وار (نوبت) سره کېنئ.

زه به ستاسو سرونه هم جوړ کړم.

سورګل و ويل:

مونږ د وېښتانو د جوړولو له پاره نه يو راغلي.

نايي وپوښتل:

خير!

د څه له پاره راغلي یاست.

سور ګل و ويل:

مونږ د يوې پوښتنې په هکله راغلي يو.

نايي و پوښتل:

د کومې پوښتنې له پاره؟

سورګل و ويل:

واده د ساز په هکله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





نايي و ويل:

مطلب مو د ساز څه دی؟

هغه و ويل:

مونږ غوښتل پوی شو، چې په واده کې ساز شته او که نه؟

نايي و ويل:

تاسو هم بلا کوئ.

اوس زه تاسو په مطلب پوی شوم.

بيا يې ږيا ته کړه.

هو!

شته.

سازنده به د کابل نه راشي.

بيا سورګل و پوښتل:

ساز د ورځې ده او که د شپې له خوا؟

نايي و ويل:

ساز د شپې له خوا ده.

الکان خوشحاله او د نايي نه يې مننه وکړه.

بيا يې ترې خدا پاماني واخسته او بېرته خپل کلي خوا په منډو روان شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

ورځ تېره او ماښام شو.

سورګل د نورو ماشومانو سره د ساز په انتظار و.

ماښام شو.

هغه کورته لاړ.

يوه ګړۍ وروسته له کوره د باندې او د ځو نورو همزولو سره د انار ماما کور خواته روان شو.

هوا روښانه او سپوږمې وه.

لاره هم ښه روښانه وه.

دوی له ځانو سره ډانګونه هم اخيسي وو.

هغوی پوهېدل چې په لاره کې سپي دي.

دوی سوچ کوه که چېرې سپي پرې حمله وکړي، هغوي به له ځانه وشړي.

الکان په لاره کې روان وو.

ناڅاپې د يوه کوره سپی را و وت او دالکانو خوا ته يې منډې کړې.

الکانو هم د خپلو دانګونو سره له ځانه دفاع و کړه.

په دې وخت کې د کور څښتن راووت او خپل سپی يې کور د ننه کړ.

بيا هغه د الکانو نه ښښنه وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

الکانو څه و نه ویل او خپلې موخې پسې روان شوو.

هغوی د انار ما ما کور ته ورسېدل او انګړ ته د ننه شوو.

په کور کې ډېر مېلمانه او د سیمې خلکو ګډون کړی وو.

څوک د ډوډۍ او څوک د ساز په انتظار وو.

لږ وخت تېر شو او انار ما ما و ویل:

خپل لاسونه پرېمنځئ، اوس به ډوډۍ تیاره شي.

هرې خوا لوی، لوی ټوکر(دسترخوانونه) اوار(هوار) شو.

خلک، ډوډۍ  ته کېناستل.

سورګل هم د  نورو الکانو سره د یوه دسترخوان ژۍ ته کېناست او په خوړو یې پیل کړ.

ډوډۍ خلاصه او دسترخوانونه ټول شول.

بیا د ځانګړو (خاصو) میلمنو د پاره چای هم راوړ شو.

سورګل د نورو ماشومانو سره د ساز په انتظار و.

څو دکیکې وروسته غږ شو.

اله (هله)!

د کابل نه سازنده راورسېدل.

سور ګل د نورو ماشومانو سره د سازنده ګانو مخې ته منډې کړی.

د انار ما ما د کور مخ ته ګڼه ګونه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاښکو هار

..........................

څه الکان و غورځېدل او دوه کسه نور هم د پښو لاندې او څه ژوبل شوو.

سورګل د خلکو په تېل ماتېل کې وغورځېد، مګر خوږ (ژوبل) نه شو.

الکان د خپلو ځانونو په غم کې نه ول، ټولو کوښښ کوه چې وګوري کوم سازنده ګان دي.

بیا سازنده ګان د انار ماما انګړ ته ننوتل.

البته د سورګل په ښان یو کس بل هم د ساز او آواز ډېر شوکي (شوقي) و.

هغه وردمخه او د انار ماما په مشورې سره سم د سازنده ګانو له پاره ځای جوړ کړی وو.

هغه سازنده ګانو ته بلنه ورکړه تر څو خپل د مخه ټاکلي ځای ته لاړ شئ.

هغوی ټاکلي ځای ته لاړل او پر توشکو کېناستل.

بیا هغوی ته د شپې ډوډۍ راوړل شوه، او هغوی د ډوډۍ خوړو نه وروسته چای هم وڅښل.

بیا کس ورغی او هغوی ته یې و ویل:

اوس کولای شئ چې ساز پیل کړئ.

هغوی د ساز سامانونه له کڅوړو نه و باسل او پر غږولو یې پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

د خلکو ګڼه ګونه وه.

د سازنده ګانو شاو او خوا مینوال ټول شول او د ماشومانو له پاره ښه نه ښکارېدل.

په دې وخت کې سورګل خپلو همزولو ته غږ کړ:

راځئ!

بام ته وخېږو!

الکان بام ته وختل.

د هغه ځای نه سازنده په ښه توکه نه ښکارېدل.

د هغه بام مخې ته غټې ونې وې.

سورګل چې په سترګو هم لږ کمزوری و، نورو الکانو ته یې و ویل:

ما ته خو سازنده ښه نه ښکاري.

ښه به وي چې کوم بل بام وموموا و الته لاړ شو تر څو سازنده ښه وګورو.

هغه په سوچ کې شو.

شپه رڼا او سپوږمۍ وه.

د بل جګ (اوچت) بام سیوری پر ځمکې غورزېدلی و.

سورګل سوچ وکړ چې بل بام دی.

هغه د بام نه د بل بام سیوری ته ټوپ کړ، کوم چې لکه بام ښکارېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

په دې وخت کې، هغه پر ځمکه وغورځېد.

خلکو د هرې خوا نه منډې کړې.

خلک ډېر وارخطا شوو.

ساز هم په ټپه ودرېد.

انار ماما هم منډې کړې.

ګورې سورګل پروت دی.

هغه يې راپورته کړ.

سورګل روغ او جوړ و.

بيا يې د هغه نه وپوښتل:

کوم ځای خو به دې درد نه کوي؟

هغه و ويل:

نه!

خلکو هغه له ځايه پاڅوه او کوښښ يې وکړ تر څو کوم کلنيک او يا هم کابل ښار ته، کوم روغتون ته ورسوي.

هغه و ويل:

زه جوړ او روغ يم.

بيا خلکو و ويل:

ولې دې له بام نه ټوپ کړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

هغه و ویل:

ما ته سازنده ښه نه ښکارېدل.

ما سوچ کوه چې بل نړدې بام دی او ټوپ مې کړ.

په حقیقت کې هغه بام نه، بلکه د بام سیوری و.

خلکو بیا د هغه نه و پوښتل:

که چېرې کوم ځای دې په درد شو، مونږ ته خبر راکړه.

هغه و ویل:

سمه ده.

خلک بېرته سازنده ګانو خوا ته لاړل.

ساز بېرته پیل شو.

سورګل چې چندان نه ژوبل شوی، بېرته بام ته وخوت او د ساز په ننداره شو.

شپه ناوخته شوه.

انار ماما غږ کړ.

د ساز د پیلې بدل و وایئ.

اوس به سهار او ملایان به د سهار آذان وکړي.

سازنده ګانو و منه.

مګر ډېرى شوکیانو(شوقیانو) به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

ادامه ورکړئ.

شپه لویه او کسان لږ شوي دي.

اوس ساز او آواز ښه خوند کوي.

انار ماما و ویل:

**نه!**

ساز بس دی او سازنده ګانو د شپې وروستۍ بدله داسی و ویله:

ای دوستان شب به خیر

ای عزیزان شب به خیر

سازنده ګانو د دې بدلې نه ورسته ساز بند او د خپلو د ساز سامانو په ټولولو یې پیل کړ.

بیا یې د ساز سامانونه په کڅوړوکې واچول.

سورګل هم خپلو نورو همزولو ته غږ کړ، هغوی راټول، د انار ماما د کوره و وتل او خپلو کورنو ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

**

زېرګل، د سور ګل مشر وروړخه نور هم لوی شو، هغه به ډېرې وخت هڅی ته، ته او د خپل پلار سره به یې مرسته کوه.

یوه ورځ پلار یې زېږ ګل ته و ویل:

هغه د بر کلي، ګلو پېژني؟

زېږ ګل وویل:

هو پلاره!

څه شوي دي؟

پلار یې و ویل:

هغه زمونږ نه په پور سودا اخستې ده.

هغه هوډ کړی و، تر څو دوې میاشتې وروسته به پیسې راوړي.

خو!

اوس شپږ میاشتې تېرې شوې دي، تر اوسه یې پیسې نه دي راوړي.

تر ټولو نه مهمه خبره دا ده چې:

اوس هغه دلته نه راځي او د بل ځای نه سودا اخلي.

زېږ ګل و ویل:

څه وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

پلار يې و ويل:

د هغه کورته لاړ شه!

لمړی زما سلام پرې و وايه، بيا ورته و وايه:

زه پلار مې رالېږلی يم چې زمونو پور (قرض) راکړې.

مونږ غواړو خپل پورونه راټول او نوره سودا پرې واخلو.

زېږ ګل و منه او د هټۍ نه د باندې شو.

هغه د ګلو کور ته لاړ.

دروازه يې وټکوه.

د ګلو زوی د باندی شو.

زېږ ګل و ويل:

پلار دې زمونږ نه پوروړی (قرضداره) دی.

پلارته دې و وايه؛ زمونږ پور راوړی، ځکه مونږ ورته اړتيا لرو.

زوی يې  د ننه شو او خپل پلار ته يې و ويل:

زېږ ګل راغلی او وايي چې، زمونږ پور راوړه.

پلار يې په غصه شو او دروازې ته لاړ.

ګوري چې په رښتيا هم زېږګل راغلی او د دروازې څنګ (شا) ته ولاړ دی.

ګلو، زېږ ګل ته په غصه شو او ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

دومره  بد سترګی یې.

څو ورځې کېږي چې د ستاسو هټۍ نه مې پور اخستی دی، بیا وخته و رپسې راغلې؟

ځه، ورک شه!

زه په خپله راځم او د ستا پلار سره خبرې کوم.

زېږ ګل څه و نه ویل.

هغه بېرته هټۍ ته روان شو.

او د ګلو کیسه یې خپل پلار ته و کړه.

پلار یې څه و نه ویل.

غرمه شوه او زېږ ګل کورته لاړ تر څو د غرمې ډوډی راوړي.

څو دکیکې وروسته ګلو راغی او پر بنکنځلو یې پیل کړ.

ګلو د زېږ ګل پلار ته و ویل:

ته څومره وږی سړی یې.

دوې ورځې مخکې مې په پور سودا وړې او اوس را نه پیسې غواړې.

د زېږ ګل پلار و ویل:

دا خو سوداګریز کار دی.

زه غواړم خپلې پیسې ټولې او پر هغه نور شیان واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

ګلو نور هم په غصه شو او پر جنت ګل یې وارونه پیل کړل.

جنت ګل هم له ځایه پاڅېد او دواړه غېږ په غېږ شوو.

په دې وخت کې ګلو ځمکې ته لاس، یوه تیږه یې واخیسته او د جنت ګل پر سر یې کلک ګذار وکړ.

د جنت ګل سر مات او وینې یې پر جامو تویې شوې.

د هغه کالی په وینو رنګ شو.

په دې وخت کې څه کسانو منډې کړې او هغوی یې سره خلاص کړل.

ګلو ډېر وارخطا شو او له سیمې وتښتېد.

خلکو د جنت ګل سره مرسته وکړه او د هغه سره یې پاک او بیا وروسته نږدې کلینیک ته یووړ.

د هغه سر یې الته پانسمان او په سپین ټوکر یې و تاړه.

بیا هغه بېرته هټۍ ته ستون شو.

څو دکیکې وروسته زېړ ګل راغی او خپل د پلار سر یې ولید چې په سپین ټوکر تړلی دی.

هغه و پوښتل:

پر سر دې څه شوي دي؟

هغه و ویل:

هسې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

کومه ستونزه نه شته.

په دې وخت کې زېړ ګل يوه څه وينه د منو پېټې خوا ته ولیده او د پلار نه يې پوښتنه وکړه:

د پېټې خوا ته وينه د څه شي ده؟

جنت ګل مجبور شو چې رښتيا و وايي.

هغه و ويل:

ګلو هټۍ ته راغلی و او زما سره يې شخړه وکړه.

هغه تيږه واخسته او زما سر يې مات کړ.

دا  وينه هم زما د سر وينه ده.

زېړ ګل په غصه شو او ويې غوښتل چې خپل ملګري او ورونه ټول او د ګلو پسې لاړ شي.

پلار يې هغه ته عذر وکړ او ويې ويل:

ته اوس هغه پرېږده.

هغه به په خپله د عذر له پاره راشي.

دا ستونزه به په جرګې حل کړو.

زېړ ګل و ويل:

زه حتماً ستا انتقام اخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

...........................

هغه له یوې خوا زمونږ پورورې او له بلې خوا پر تا یې ګذارونه کړي، حتا تر دې چې ستا سر یې هم مات کړی دی.

زه به د هغه سره و ګورم.

زیړ ګل به د خپل نورو ورنو سره د هغه پلټنه کوه، تر څو هغه ونیسي، هټۍ ته یې راوړي او د خپل پلار قصور (انتقام) ترې واخلي.

ورځې به شپې او شپې به، په ورځو اوښتې.

میاشت تېره شوه.

یوه ورځ ګلو په کوڅه کې روان و، د زیړ ګل پرې پام شو.

هغه خپل نورو ورونو ته غږ کړ، چاکو یې راواخیست او د ګلو پسې یې منډې کړې.

هغه یې په کوڅه کې ونیو او مخ پر هټۍ یې کش کړ.

هغه یې هټۍ ته د ننه او الته یې ودراوه، چېرې چې یې د هغه د پلار سر مات کړی او د هغه د سر وینه، تویه شوی وه.

بیا چاکو یې واخیست او هغه یې درې چاکو پر اوږه و واهه او د هغه وینه یې الته تویه کړه.

الته شور ماشور (غلمغال، غالمغال) جوړ شو، خلک ورسېدل او ګلو یې د جنت ګل د زامنو نه وژغوره.

د هغه د اوږې نه وینې بهېدې.

هغه ولسوالۍ خوا ته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

ولسوالۍ ته د ننه او د جنت ګل پر زوی، زېړ ګل یې عرض و کړ.

د ولسوالۍ قاضي هغه یې کلینک ته ولېږه او څو پولیس یې د جنت ګل هټۍ ته ولېږل تر څو زېړ ګل و نیسي او ولسوالۍ ته یې راولي.

پولیس هټۍ ته لاړل او آلته یې زېړ ګل ته و ویل:

ته باید ولسوالۍ ته لاړ شئ.

هغه و ویل:

ما خو کومه ګناه نه ده کړې نو ولې ولسوالۍ ته لاړ شم.

یوه پولیس و ویل:

تا ګلو په چاکو وهلی دی  او هم وایې چې ما کومه ګناه نه ده کړې.

زېړ ګل و ویل:

ګلو زمونږ پورورۍ دی.

څه موده مخکې، پلار مې زه د هغه کورته ولېږلم تر څو خپل پور (قرض) ترې وغواړو.

هغه دروازی ته راغی او ما ته یې سپکې، سپورې او بنکنځل وکړل.

بیا وروسته راغلی زما د پلار سر یې هم، مات کړی و.

ما هم خپل د پلار قصور (قصد) ترې واخیست.

پولیس و ویل:

راځه، ولسوالۍ ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

........................

البته به خپلې خبرې قاضي ته وکړئ.

هغه و منه او د پولیسو سره ولسوالی ته لاړ.

البته قاضي خپلې څېړنې پیل کړې.

بیا یې د دواړو خواوو نه پوښتنې وکړې.

قاضي پرهغوي شاهدان هم وغوښتل او د هغوی له پاره یې نوې دوسیه جوړه کړه.

بیا خبره جرګې ته وغورځېده.

جرګې د زېړ ګل لنګه (ننګه) وکړه او د هغه خبره یې تصویب (تایید) کړه.

قاضی خپلې څېړنې پای ته ورسوې.

قاضي ګلو یې پړ(ملامت) و باله.

بیا غونډه جوړه شوه او په هغې کې د جرګې مشرانو هم برخه اخیستې وه.

په غونډه کې قاضي ګلو ته د بند سزا واوروله، زېړ ګل یې بې ګنا وباله او د بند نه یې خوشې کړ.

زېړ ګل خپل کور ته لاړ.

بیا پر سبا، د کلي مشرانو جرګه جوړه کړه.

جرګې د هغوی تر منځ د روغې جوړې خبر ورکړ او دواړو خواوو ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

تاسو کولای شئ، خپل ژوند او کار اوبار ته دوام ورکړئ.

دواړه کورنۍ به یوه بل ته ستونزې نه جوړوئ.

هغوی و منه.

جرګې د دواړو خواو نه لاسلیک او ضمانتونه واخیستل.

د هغوی تر منځ د تل له پاره روغه جوړه (سوله) شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

***

سور ګل نور هم لوی شو او کابل ښار د دارلامان په سیمې کې يې کار وموند او التـه وګمارل شو.

هغه به سهار وختي له خوبه پاڅېده او د سهار د لمانځه نه وروسته به پوخ سړک ته، ته او التـه به يې د څو دکیکو له پاره د املې (حملې ) موټر انتظار کوه.

هغه کاريګر او خپل د کار پر مالک ګران شو.

هغه به وختي کار ته، ته او ماښام به د ټولو نه وروسته کار د سیمې نه ستنېده، خپل د املې (حملې) موټر ته خوت او کور ته به ته.

څه موده داسې تېره شوه.

هغه د کار سره عادت شو او هېڅ غير حاضرى به يې نه کوه.

څه موده تېره او په ولسوالۍ کې امنيتي ستونزې پيدا شوې.

هغه خپل کار ته دوام ورکړ.

چا به چې ورته ويل:

تـه نه بېرېږې چې ښار ته ځې او التـه د کمونيستي حکومت تر سيوري لاندې سيمې کې کار کوې؟

هغه به ويل:

نه!

ولې و بېربږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

زه خو د کمونیستي حکومت سره کار نه کوم.

زه یوه مزدوکار سړی یم.

په شخصي ودانیو کې کار کوم.

زه حلاله روزي ګټم، هم د ځان او کورنۍ له پاره حلال خواړه برابروم.

په دې کې به ما ته مجاهدین څه و وایي.

خلکو به ویل:

دهغوی پوی کول او هغوی ته یې ثبوتول ډېر وخت ته اړ تیا درلوده.

هغه به څه نه ویل او خپلې دندې ته یې دوام ورکوه.

څو ورځې هم تېرې شوې.

هوا لږ سړه شوه.

شپې لویې او ورځې لنډې شوې.

د مني شپې وې.

هغه به وختي بیده کېده او سهار وختي له خوبه پاڅېده.

هغه د خپل کار د مزدورۍ په پیسو یوه ګړۍ (ساعت) هم واخیست.

همدا راز هغه د مزدورۍ په پیسو د کور اړتیا وړ شیان اخیستل او پاتې پیسو به یې خپل پلار او یا هم خپلې مور ته، ورکوې.

وختونه تېرېدل او ژمې راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

شپې، نورې هم لوېې شوې.

هغه به وختي بیده کېده.

یوه ورځ هغه د کار په سیمې کې ډېر کار کړی او خورا ستومانه شوی و.

کوم وخت چې کور ته ورسېد د شپې د ډوډۍ خوړو نه یې وروسته د ماسخوتن لمونځ ژر و کړ، بیا بیده شو.

په نیمه شپه کې، له خوبه پاڅېد او ژر یې ګړی ته وکتل.

ګړی دوې بجې وې.

هغه سوچ وکړ چې سهار او شپږ بجې دي.

بیا یې له ځان سره و ویل:

زه خو وختي بیده شوی وم.

دا ولې ناوخته پاڅېدم.

سهارلمونځ هم زما نه تېر شو.

بیا ژر حمام ته لاړ، خپل مخ او لاسونه یې پرېمنځل.

د باندې رڼا او د سپوږمی څوارلمسه وه.

هغه ژر بېرته کوټې ته ستون او خپل بنیان (جاکت) اوکورتۍ (کرتۍ ) یې واغوسته، پټو یې له ځانه تاو، بوټان یې په پښو، په منډه د انګړ (حویلۍ) نه و وت او خپل تم ځي خوا ته ژر، ژر لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

په لاره کې پولیسو هغه ودراوه او د هغه نه یې د شپې نوم پوښتنه وکړه.

سور ګل و ویل:

څه خبره ده؟

سترګې لرې؟

پولیس و ویل:

هو!

دا څه دي.

هغه و ویل:

په سهار کې څنګه د شپې نوم پوښتنه کوې؟

پولیس و ویل:

ګړی (ساعت) لرې؟

هغه و ویل:

هو لرم.

څو بجې دي؟

سورګل و ویل:

لیدو ته یې حاجت نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ بجې دي.

ما په کور کې په ځير سره ولېد.

پوليس و ويل:

تا په زير سره ګړی ته کتلي دي؟

هغه و ويل:

هو!

دوې ځل مې و کتل.

پوليس و ويل:

ساعت پاو باندې دوې بجې او شپه ده.

پوليس هغه ته خپله ګړی و ښوده.

سور ګل و ويل:

ستا ګړی سم کار نه کوي.

هغه بل پوليس ته هم غږ کړ.

بل پوليس راغی او لمړي پوليس ته يې و ويل:

خيريت خو به وي؟

لمړي پوليس و ويل:

څو بجې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

هغه و ویل:

شل تېرې دوې بجې دي.

بیا یې د لمړي پولیس نه پوښتنه وکړه:

دا ځوک او په دې وخت کې څه کوي.

لمړي پولیس و ویل:

ما هم د دې له پاره دلته ایسار کړی دی.

دا وایي چې سهار شوی او ما ته اجازه راکړه چې کار ته لاړ شم.

دوېیم پولیس و ویل:

دا باید ګزمې ته تسلیم کړو.

کېدای شي کوم فساد یې کړی وي او اوس ځان په ټګۍ وهي.

څه وخت تېر او ګزمه راغله.

پولیس سورګل ګزمې ته معرفي کړ.

هغوی هم د سور ګل نه پوښتنې وکړې.

داسې معلومېدل چې هغه تېروتلی وي.

بیا یې هغه ته و ویل:

اوس خو پوی شوې سهار نه، بلکه شپه ده.

سور ګل و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

هو!

زه تېر وتلی یم.

ما سوچ کوه چې سهار دی.

بیا د ګزمې پولیس و ویل:

ته چېرته کار کوې؟

هغه و ویل:

د دارلمان په سیمې کې کار کوم.

بیا یې و پوښتل:

الته ښنګه ځې؟

هغه و ویل:

زه د املې (حملې) موټر لرم.

بیا پولیس و پوښتل:

نور څوک هم د دغه ځایه، الته ځي؟

هغه و ویل:

هو!

اته کسان د دغه ځای نه یو ځای ځو.

بیا پولیس و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

........................

سمه ده!

صبر به وکړو تر څو سهار او د ستا د املې (حملې) وخت ورسيږي.

هوا روښانه شوه.

پوليس د سور ګل نه پوښتنه وکړه او ويې ويل:

کوم ځای ته ستاسو د املې (حملې) موټر راځي؟

سورګل و ويل:

د پاخه سړک پر غاړه د ماجت څنګ ته.

بيا پوليس و ويل:

راځه چې ستاسو د املې موټر تم ځای ته لاړ شو.

سور ګل و ويل:

سمه ده!

راځه چې ځو.

هغوی د املې موټر تم ځای ته لاړل او الته ودريدل.

څو دکيکې وروسته الته ورسيدل.

ورو، ورو نور کارکونکي هم راټول شو.

هر يوه به د سورګل نه پوښتنه کوه چې څه خبره ده؟

پوليسو ولې نيولې يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

هغه به ویل:

زه تېروتلی وم.

ما ګړۍ ته وکتل دوې بجې وې او سوچ  مې وکړ سهار شپږ بجې او نا وخته ده.

ژر مې مخ او لاس پرېمنځه، بنیان او کرتې مې واغوسته او پټو مې له ځانه تاو او د کوره په ځغاستو و وتم.

پوستې سره پولیسو ودرولم او له ما نه یې د شپې نوم پوښتنه وکړه.

ما ور ته و ویل:

دا څه حال دی؟

د ورځې له خوا هم تاسو د شپې نوم پوښتنه کوئ.

هغوي و ویل:

سهار نه دہ، بلکه شپه ده.

بس!

اوس دلته ورسېدم.

پولیس زما سره دلته راغلل.

بیا یوه کس چې د سور ګل خپلوان و، ویې ویل:

آمر صیب!

زه سور ګل ښه پېژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

هغه ډېر ښه کاریګر او سم کاری (صادق) سړی دی.

څه چې وايي هغه رښتيا ده.

بیا پولیسو و ویل:

ته يې ضمانت کوې؟

هغه و ویل:

هو!

بیا پولیس له موټره سپین کاغذ راوخیست او کس ته يې و ویل:

دا ده !

دلته ولیکه چې د سور ګل ضمانت کوم.

هغه کاغذ واخیست، لیک يې ولیکه او په پای کې يې لاسلیک هم وکړ.

بیا پولیس و ویل:

د نن ورځې پیخلیک (نېټه، تاریخ) هم و لیکه.

هغه پیخلیک هم و لیکه.

بیا يې د درې نورو کسانو نه د شاهد په توګه لاسلیک او ګوتې واخستې.

کاغذ يې د موټر په مخکینۍ برخه کې کېښود او سور ګل ته يې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

کوښښ وکړه نور دې ګړی ته په ځير سره وګوري، تر څو کومه ستونزه رامنځ ته نه شي.

هغه ومنه.

بيا يې د پوليسو نه مننه، خدای پاماني واخيسته، املې (حملې) موټر ته وخوت او خپل کار سيمې ته لاړ.

هغه به ډېر احتياط کوه چې بيا هغسې پېښه منځ ته رانه شي.

وختونه تېرېدل او هغه هم لوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

****

څه وخت تېر شو.

سياسي ستونزې په سيمې کې ډېرې شوې.

د هغه مشر ور هم د مجاهدينو سره اړيکې پيدا کړې.

کله نا کله به يې د هغه وخت دولت (حکومت) پر ضد هم خبرې کوې.

څه موده تېره شوه.

چا د سور ګل د ورور ياني (يعنې) زېړګل راپور د وخت دولت ته ورکړ چه هغه د مجاهدينو سره لار، لري.

يوه ورځ زېړګل ته چا خبر ورکړ چې:

دولت د استخباراتو کسان د تا پسې ګرځي او غواړي تا بندي کړي.

په دې وخت کې هغه کور ته لاړ او سورګل يې هم د ځانه سره يوځای او ايران هېواد ته و تښتېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاڅکو هار

..........................

*****

سورګل خپل نوی ژوند په بهر کې پیل کړ.

هغوی دواړو به د ورځې کار کوه او د شپې به خپل هستوګن ځای ته، تلل.

د کور د سودا اخیستل هم د سورګل په غاړه و.

هغه ډیر زړه ور او په فارسي ژبې هم پوهېده.

هغه به سهار وختي د ډوډۍ اخستلو د پاره نانوايي (خبازي ) ته، ته.

هغه به تودې ډوډۍ اخیستې او کور ته به يې راوړې.

هغه په ژبه هم ډېر ګړندی و.

سورګل به ژر د نورو سره بلد او انډيوال کېده.

څه موده تېره شوه.

هغه د ډېرو خلکو سره بلد او انډيوال شو.

یوه ورځ وختي کور ته لاړ.

او ورور يې ورته و ويل:

نن میلمانه لرو، نانوايي ته لاړ شه او ډوډۍ راوړه.

هغه نانوايي ته لاړ.

ډوډۍ لږه وه، هغه هم لږې ډوډۍ واخیستې او له ځانه سره يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

د شپې خو به چاره وشي.

سبا، بيا خدای مهربانه دی.

وختي به پاڅېږم، نانوايي ته به لاړ او توده ډوډی به واخلم.

ټول به ويده يې، خو زه به راغلی اوسم.

هغه مخ په کور روان شو.

کور ته ورسېد، بيا انګړ ته د ننه شو.

وروسته د مېلمه کوټې ته د ننه او ډوډی يې پر دسترخوان کېښوده.

ورور يې و پوښتل:

نن ميلمانه هم لرو.

ډوډی ډېره لږه راوړې ده.

يواځې د شپې به بس شي، سبا به څه وخورو؟

سور ګل و ويل:

په نانوايي کې نن ډوډی لږه وه او ما هم لږه راوړه، چې د ټولو خلکو چاره پرې وشئ.

سبا وختي پاڅېږم او نانوايې ته لاړ شم.

بيا به ډېره او د نانوايي توده ډوډی راوړم.

ورور يې و ويل:

سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاڅکو هار

..........................

کومه ستونزه نه شته.

سورګل شپې د مېلمنو سره په کیسو بوخت و.

هغه ناوخته بیده شو.

هغه په سوچ کې بیده شوی او په نیمه شپه د خوبه پاڅېد.

هوا روښانه وه.

هغه خپله کرتۍ واغوسته.

په جبو یې لاس تېر او پوی شو چې په جب کې یې پیسې شته.

بیا د کوره و وت.

مخ پر نانوایۍ روان شو.

په لاره کې یوه موټر یې خوا ته ودرېد او ویې ویل:

چېرته ځې؟

هغه و ویل:

نانوایۍ ته ځم او ډوډۍ اخلم.

بیا سور ګل و ویل:

ته څوک یې چې زمانه پوښتنه کوې؟

هغه و ویل:

مونږ د ګزمې پولیس یوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې زیاته کړه.

اوس نانوایي تړلی دی.

ولې درواغ (دروغ) وایې؟

سور ګل و ویل:

زه رښتیا وایم.

ما ماښام هم ډوډۍ واخیسته او د ډوډۍ شمېرې لړې وې.

مونږ میلمانه لرو.

غوښتل مې چې هغوی ته توده ډوډۍ وېسم.

پولیسو د هغه خبره دروغ و ګڼه او هغه ته یې و ویل:

اوس موټر ته پورته بیا وروسته په حوزې کې خبرې کوو.

سور ګل بله لار نه درلوده او د پولیسو د ګزمې موټر ته و خوت.

ورځ شوه.

سور ګل و ویل:

اوس خو ورځ شوه، غوارم نانوایي ته لاړ او ډوډۍ واخلم.

مېلمانه به زما په انتظار وي.

هغوی و ویل:

تر نهه بجو دلته پاتې شه، که چېرې د کوم کور او هټۍ غلا راپور مونږ ته و نه رسېد، تا به خوشې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

...........................

هغه و منه او د ګزمې د پولیسو په مرکز کې پاتې شو.

ګړی، پاو باندې نهه بجې شوې.

بیا هغه سور ګل ته و ویل:

کولای شئ اوس لاړ شئ.

هغوی زیاته کړه:

دلته دې پته ولیکه، که چېرې کومه ستونزه منځ ته راځي مونږ به تا سره خبرې وکړو.

سور ګل و ویل:

سمه ده، مګر زه بې زده کړې یم.

تاسو یې ولیکئ، بیا زه ګوته ږدم.

هغوی د سور ګل له خوا پته ولیکه او د هغه ګوته یې واخیسته.

بیا یې هغه ته و ویل:

اوس کولای شئ، نانوایي ته لاړ شئ.

بیا هغه د پولیسو مرکز نه و وت.

لمړې نانوایي ته لاړ.

ډوډۍ یې واخیسته او کور ته روان شو.

لږ ځنډ وروسته کور ته ورسېد.

الته تول د هغه په انتظار وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

هغوی سوچ کوه چې پر سور ګل څه پېښه شوې ده.

هغوی نه پوهېدل چې سورګل تېروتلی او د شپې له کوره نانوايي ته، تللی او د ګزمې پولیسو هغه نیولی دی.

بیا سورګل هغوی ته خپله ټوله تېره شوې کیسه وکړه.

وروړ يې ور ته و ویل:

تا همداسې تېروتنه په کابل کې هم کړې وه.

دلته زمونږ هېواد نه دی.

ته باید ډېراحتیاط وکړئ تر څو داسې بله پېښه و نه شي.

هغه و منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځاځکو هار**

..........................

******

څه وختونه تېر شو.

د پغمان په ولسوالۍ کې حالات نور هم کړکېچن شو.

ډېرى خلک ولسوالۍ نه د ښار مرکز او ځینې نور هم د ګاونډیو هېوادونو خوا ته مخه و کړه.

د سور ګل نوره کورنۍ هم ایران ته کډه شوه.

سور ګل او ورور یې مجبوره وو تر څو ډېر کار وکړي.

سور ګل ځان ته په یوه فارم کې دنده و مونده.

هغه به وختي دندې ته، ته.

او ماښام ناوخته به بېرته کورته، راته.

هغه به په فارم کې ډېره خواري کوه، او د فارم په مالک هم ګران شو.

هره دنده به چې د کار مالک هغه ته سپارله، هغه به په صداقت سره تر سره کوه.

څه وخت تېر شو.

هغه د ټکټر (تراکتور) چلول هم یاد کړل.

د فارم مالک هغه ته ټکټر ورکړ تر څو دهغه په ذریعه په فارم کې کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

هغه به د ټکټر نه ډېره ښه ګټه اخسته.

یوه ورځ په فارم کې په کار بوخت و.

ویې لیدل چې د ټکټر تیل لږ شوي دي.

هغه ټکټر د تېلو اخستلو ځای ته بوته او الته نږدې یې ودراوه.

ټکټر د ټانکۍ سر یې خلاص بیا یې پایپ واخیست او د ټکټر په ټانکۍ کې یې کېښود.

تیل د پیپ په ذریعه ټانکۍ ته روان ول.

په دې وخت کې یوه بل بزګر هغه ته غږ کړ.

سورګل پایپ په ټانکې کې پرېښود او خپله د هغه کس خوا ته لاړ.

څو دکیکي د هغه سره په خبرو اخته و، په یاد یې راغی چې د تیلو پایپ یې په ټانکۍ کې بل (چالان) پرېښی دی.

ژر، ژر یې منډې کړې او ځان یې ټکټر ته ورساوه.

ګوري چې تېل په ځمکه بهېږي.

ژر یې پایپ بند کړ.

مګر تیل په ویالو او پټیو کې بهېدلي ول.

سورګل وارخطا شو او د فارم مالک ته یې غږ کړ.

د فارم مالک راغی او و یې لیدل چې تیل په ویالو او پټیو کې روان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

بیا یې د تیلو میټر ولید.

درې زره (۳۰۰۰) لیټره تیل په ویالو او پټویو کې تللی دي.

لمړی د فارم مالک په غصه او بیا یې له ځان سره سوچ وکړ.

اوس کار شوی دی.

هر څه چې وکړي، کومه ګټه نه لري.

بیا یې سور ګل ته و ویل:

تیل مهم نه دی، خو ځمکه دې له کاره و ویسته.

د دې له پاره چې سور ګل ښه او خواریکښ و، هغه یې وبښه او ورته یې نصیحت وکړ تر څو خپل کار ته پاملرنه وکړي.

هغه ومنه او د فارم د مالک نه یې بښنه وغوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

*******

سور ګل په فارم کې بوخت و.

هغه به د جمعې په ورځ پارکونو کې د چکر (سیل، میلې) له پاره ته.

یوه ورځ چې هغه یوه لوی پارک ته تللی و، کور کې یې د هغه پارک په هکله ډیر توصیفونه (صفتونه) وکړل.

کورنۍ یې حیرانه پاتې شوه او له هغه یې وغوښتل چې دوی هم د هغه پارک د لیدو او چکر له پاره بوځي (یوسي).

هغه و منه او کورنۍ ته یې وعده ورکړه تر څو په مناسب وخت کې هغوی هم یاد شوي پارک ته بوځي.

څه و خت تېر شو.

سورګل د فارم مالک نه اجازه واخیسته تر څو د جمعې په ورځ ټوله کورنۍ له ځانه سره پارک ته په ټکټر کې یوسي.

پنجشنبه تېره او سهار شو.

سور ګل کورنۍ سره د پارک تلو له پاره څه شیان تیار او پاخه کړل.

بیا یې د چای سماوار هم پاک او پرېمنځه.

د ښنلو اوبه یې هم په غټو بوتلو کې واچوې.

څه تازه میوه یې هم یوې خوا ته کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

...........................

بیا يې د ګازو ډبه واخيسته، ګاز خرڅولو هټۍ ته لاړ او په ډبې کې يې ګاز هم واچول.

د بخار دېګی، د ډوډۍ ټوکر (دستر خوان) يې هم له نورو شيانو سره يوځای کړ.

بيا يې ټکټر غولي ته د ننه او ټول شيان يې د ټکټر په ټرک کې بار کړل.

وروسته يې ټکټر د باندې کړ.

لږ وروسته يې ټولو ته يې غږ کړ چې د ټکټر ټرک ته و خيژي.

ټول د ټکټر ټرک ته وختل.

هغه د غولي (انګړ، حوېلۍ) دروازه وتړه او خپله يې ټکټر ته کېناست.

ټکټر يې چالان او د ليدلي پارک خوا ته روان شو.

يوه ګړۍ وروسته، الته ورسېدل.

ټکټر يې د پارک غاړې ته ودراوه او شيان يې ترې کښته (کوز) کړل.

بيا يې ټکټر د موټرو پارک کې ودراوه او خپله يې پارک ته د ننه شو.

په پارک کې يوه ښه ځای پيدا او الته يې ټغرونه اوار (هوار) کړل او شيان يې يوې خوا ته کېښودل.

د کورنۍ ښځې په پخلي اخته شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

سور ګل هم سماوار ته اوبه واچوې او هغه يې روښانه کړ.

څه ځنډ وروسته اوبه  وخوټېدې (جوشې) شوې.

هغه په چايجوشونو کې چاى دم کړ.

نورو پيالې و منځې او سور ګل په پيالو کې چاى واچاوه.

هغوى په مزه، مزه چاى و څښل.

غرمه شوه.

د کورنۍ ښځو د غرمې ډوډۍ تياره کړه.

سورګل دستر خوان اوار (هوار)، ډوډۍ يې پر دستر خوان کېښوده او نورو غابونه او غوري ګان هم پر دستر خوان کېښودل.

ميوه او تر کاري ژيړګل پر دسترخوان کېښوده.

بيا سور ګل د اوبو لوښي او پيالې کېښودې.

هغوى د بسم الله په ويلو سره، په خوړو پيل کړ.

ډودۍ وخوړل شوه، دسترخوان او لوښي ټول شول.

دا ډوډۍ ټولو ته ډېر خوند ورکړ.

هغوى تر ماسخوتن پورې الته پاتې شوو.

څو ځل يې چاى دم او وڅښل.

ماسخوتن ناوخته شو.

سورګل و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................

زما سترګې د شپې له خوا چندان لید (کار) نه کوي.

ښه به وي چې کالي راټول، په ټکټر کې يې کېږدو او کور ته لاړ شو.

ټولو ومنه!

هغوی د شيانو په راټولولو بوخت شو.

ټول شيان يې ټول او د ټکټر په ټرک کې يې کېښودل.

بيا هغوی ټول د ټکټر ټرک ته وختل.

سور ګل ټرک ته کښيناست او هغه يې چالان کړ، بيا يې د کور لوري (خوا) حرکت وکړ.

د لوی سړکونو نه، کوشنيو سړکونو ته ورسېدل، په کوشني سړک کې د هغه مخې ته موټر راغی، سړک کوشنی و.

هغه ټکټر لږ غاړې ته کړ او په لاره وړاندې لاړ.

څو ثاني مخ ته نه و تللی چې ټکټر يې د يوه کور په پيک کې بند شو.

هغه زيار و باسه تر څو ټکټر د کور د پيک نه خلاص او خپل کورته لاړ شي.

مګر هغه بريالی نه شو.

په دې وخت کې د کور خاوند او د هغه زامن را و وتل او پر سور ګل باندې په غصه شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

سور ګل و ویل:

زما کومه ګناه نه ده.

سړک ډېر کوشنی دی، زما مخې ته بل موټر راغی، ما هغه ته لاره ورکړه او زه د تاسو د کور په پیک کې بند پاتې شوم.

ټول د ټکټر د ټرک نه کښته شوو.

بیا د کور خاوند پر ټولو غږ کړ.

راځی چې ټکټر ټیله کړو تر څو له ځایه بې ځایه شي.

هغوی هر څه زیار و باسه، مګر کومې پایلې ته ونه رسېدل.

ټکټر تر پیک لاندې بند پاتې شو.

هر چا به سوچونه کول، څه ګټه به یې نه کوه.

بیا سورګل تر ټکټر تاو راتاو شو.

د هغه په ذهن کې څه وګرځېدل، بیا په خندا شو.

ټول هغه ته په غصه شوو او ویې ویل:

دا د خندا وخت دی؟

کار دې بنه کړی، چې خاندې؟

هغه و ویل:

ما ته یوه چل په ذهن کې وګرځېد.

خلکو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

څه چل؟

هغه و ویل:

و ګورئ!

زه څه کوم؟

هغه د ټکټر د ټایرونو نه باد (اوا، هوا) و باسه او ټکټر د پیک نه ښکته او آزاد شو.

بیا یې خلکو ته و ویل:

راځئ!

اوس به ټکټر ټیله کړو(ټیلوهو)

ټولو ټکټر ټیله او د پیک لاندې نه یې و باسه.

بیا خلکو و ویل:

اوس به څه چل کیږي؟

هغه و ویل:

اوس خو نا وخته ده.

ټکټر به تر سهاره دلته د سړک پر غاړې پرېږدو.

زه به سبا دلته وختي راشم او ټایرونو ته به یې اوا (هوا) ورکړم.

بیا یې خپلې کورنۍ ته و ویل:

بلا وه، برکت یې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

راځئ!

اوس به په پښو کور ته لاړ شو.

هغوی ټول په پښو کور ته لاړل.

په لاره کې ټول د سورګل سوچ ته حیران (هک پک) شوي وو.

شپه تېره، هغه وختي ټکټر ته ځان ورساوه او بیا یې پنچرمېن د اوا (هوا) ماشین سره ټکټر ته راوست.

پنچر مېن د ټکټر ټایرو ته اوا (هوا) ورکړه، بیا هغه څه پیسې پنچر مېن ته ورکړی او هغه د ځایه لاړ.

سور ګل هم ټکټر چالان او فارم ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





********

څه موده تېره شوه.

يوه ورځ سور ګل وختي کار ته روان و.

هغه مجبوره و تر څو د يوې کوشنۍ دښتې نه تېر شي.

هغه دښتې ته ورسېد.

هغه ګړندي ګامونه واخيستل او پوهېده چې وخت شين ملا اذان دی، بايد ژر تر دې دښتې تېر شي.

هغه په دښتې کې روان و.

په نا څاپي توګه مخ ته يې دوې کسان پاڅېدل.

سور ګل له ډاره هغوی ته سلام واچوه.

هغوی پرې چاکو (چاقو) و باسه او هغه ته يې و ويل:

خبرې مه کوه!

اله (هله) ژر شه، پيسې و باسه.

هغه و ويل:

زما سره پيسې نه شته.

کسانو و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

ته څرنګه سړی يې؟

دا نا ممکنه ده چې له تا سره پيسې نه وي.

ژر شه پيسې و باسه.

بيا هغوی سور ګل تلاشي کړ او د جيب نه يې ۵۰۰ ( پنځه سوه) تومانه پيدا او يوه کس هغه يې خپل جيب ته د ننه کړې.

بيا يې سور ګل ته و ويل:

ځه!

ورک شه!

شا ته دې مه ګوره!

هغه بېرته کور ته لاړ؛ د کور نه يې نيم ګز زنځير راواخيست او بېرته د کار لورې ته، روان شو.

هغه خدای، خدای کوه چې هغه کسان ورته په مخه راشي او خپلې پيسې ترې بېرته واخلي.

هغه چابکه، چابکه په لاره کې ته.

خو، کسان (غله) ورته په مخه را نه غلل.

څو دکيکې وروسته هغه بازار ته ورسېد.

التـه يې د خپل ايراني ملګري سره و ليدل.

هغه و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاڅکو هار

..........................

په زنځير څه کوې؟

سورګل د خپل سهارنۍ د پیسو د لاسه ورکولو کیسه ورته وکړه.

ملګري يې و ويل:

ښه شو په خيرسره تېره شوه او تا ته يې نقصان (ضرر) نه دی رسولی.

بيا يې سورګل ته و ويل:
که چېرې هغه کسان تا ته په مخه راشي، ته يې پېژنې؟
هغه و ويل:
نه!

هغوی خپل مخونه په ښادرو باندې پټ کړي وو.

بيا ايراني ملګري يې و ويل:

دا به ګرانه وي تر څو هغوي پيدا کړو.

اوس شوې او سوچونه ګټه نه لري.

بيا سور ګل د خپل ملګري نه خدای پاماني واخسته او خپل کار ته روان شو.

سور ګل وروسته له هغه ورځ نه به، هره ورځ زنځير له ځانه سره تر کاري ځای پورې وړو.

مياشتې تېرې شوې.

بيا هغه ښوک په دښتي کې و نه ليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

*********

څه موده تېره شوه او هغه د واشل جوړولو فابريکې کې کار و موند.

هغه به د پخوا په شان وختي له کوره وته او کار ځای ته به ته.

هغه نا چاره (مجبوره) و چې د هماغې دښتې نه تېر او د کار ځای ته ورسېږي.

څو ورځې تېرې شوې، خو کومه پېښنه رامنځ ته نه شوه.

هغه ډېر خوشحاله و او سوچ يې کوه چې هر څه سم شوي او غله هم پوليسو نيولي دي.

ځکه هېڅوک هغه ته په مخه نه راځي.

دوې مياشتې تېرې شوې، کومه پيښنه منځ ته را نه غله.

هغه نور هم زړور شو او له ځانه سره يې و ويل:

هېڅ خبره نه شته، ښه به داوې چې سهار لمانځه نه وروسته خپل کار ځای ته لاړ او د سهار چای به د نورو ملګرو سره الته وڅښم.

يوه ورځ هغه په کار کې بوخت و.

مابښام شو.

بيا يې وغوښتل خپل کورته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

سوچ يې و کړ چې؛ که سهار وختي څوک په دښتې کې مخې ته نه راځي، د شپې هم نه راځي.

سور ګل په ډاډه زړه کورته روان شو.

دښتې ته د ننه او په لاره کې روان و.

په ناڅاپي ډول يوه کرولا ډوله موټر څنګ ته يې ودرېد.

سورګل حيران شو چې په دې دښتې کې موټر څه کوي.

په دې وخت يوه کس له موټر نه کوز او سور ګل ته يې و ويل:

ژر شه !

هر څه لرې، مونږ ته يې راکړه.

سور ګل وارخطا شو او ويې ويل:

زه خو څه نه لرم.

بل کس هم د موټر نه کوز او د سورګل په پلټنې (تلاشۍ) يې پيل کړ.

هغه څه و نه موندل او سورګل ته يې و ويل:

ژر و وايه!

پيسې دې چېرته پټې کړې دي؟

هغه و ويل:

زه کاريګر يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

قسم خورم چې زما ما سره پيسې نه شته.

بيا هغوې و ويل:

اوسه و وايه چې تا په چاکو (چاقو) و وهو او که په زنځير؟

سورګل و ويل:

په څه چې غواړئ ما و وهئ، ژر و وهئ.

پوهيږې چې ناوخته ده او غواړم ژر کور ته لاړ شم.

کسانو وليدل چې عجيبه سړی دی.

بيا يې و خندل او هغه يې خوشې کړ.

سور ګل هم د خدای نه شکر وکړ او په منډو کور ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

**********

څه موده تېره شوه او سور ګل بله دنده و مونده او د هغه تنخواه (معاش) تر فابريکي هم اوچت شو.

د هغه دنده د ودانيو د مخې ډول (نما کاري) وه.

هغه نوې دندې ته ډېر خوشحاله و او سوچ يې کوه چې ډېرې پيسې به وګټي.

هغه پر دندي پيل کړ او هره ورځ به د پخوا په شان وختي کار ته، ته او هيڅ غير حاضري به يې نه کوه.

د ودانولو کمپنۍ مالک هم د سور ګل نه خوشحاله و.

د يوې وداني کار پای ته ورسېد.

د کمپنۍ مالک سورګل ته و ويل:

ته او هغه بل ستا ملګرى وختي سيمې ته راشئ.

تاسو په ځير سره لفټ (بالابر) خلاص او ځمکې ته يې ښکته کړئ.

پر اته بجو به موټر راشي او هغه به په موټر کې بار او بلې سيمې ته به يې ولېږدوو.

هغه خپل ملګرى ته و ويل:

کولاى شو سبا وختي ودانۍ ته راشو؟

ملګري يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

هو !

کومه ستونزه نه شته.

هغوی د ورځې نور کارونه سر ته ورسول او سبا وختي دواړه سیمې ته لاړل.

لمړی سور ګل پاس پورته او د لفټ څه لاینونه (کیبلونه) یې خلاص کړل.

هغوی دواړه د لفت په خلاصولو او ښکته کولو(کوزولو) نه پوهېدل.

سور ګل هر څه خواري وکړه، خو لفټ خلاص نه شو.

بیا د هغه ملګري د لاندې نه غږ کړ.

سورګله !

که ته نه شې کولای چې لفټ خلاص کړې، ته کوز شه زه به کوښښ و کړم تر څو لفټ خلاص او د وړلو د پاره یې چمتو کړم.

بیا سور ګل و ویل.

سمه ده.

زه به کوز شم.

ته راوخیږه.

وخت لږ دی.

اوس به موټر هم ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

ملګری یې په منډو پاس وخوت.

هغه د لفت خوا ته لاړ او د هغه په خلاصولو یې پیل کړ.

د لفت ټول لینونه (کیبلونه) د سور ګل له خوا خلاص شوي ول.

په دې کار د هغه ملګری نه پوهېده او هغه هم د لفټ وروستنی لړ (کیبل) خلاص کړ.

لفټ د ودانۍ نه د لرې کېدو په حال کې شو.

سور ګل غږ کړ:

ځان خونې ته وغورځوه!

هغه پوی نه شو.

او د لفټ سره یو ځای مخ په سرک، په حرکت شو.

لفټ په ځمکه وغورځېد او د سور ګل ملګری د لفټ لاندې او مړ شو.

سورګل هک پک پاتې شو.

په دې وخت کی د کمپنې ریس هم ورسېد.

هغه د سورګل ملګري مړی ولید او ډېر خپه شو.

بیا یې امبولانس ته زنګ و واهه او د هغه مړی یې روغتون، بیا یې د مهاجرو ادیرې ته ولېږداوه او هلته یې ښخ کړ.

سورګل به کله نا کله د هغه قبر ته، ته او هغه ته به یې دعا کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

***********

څو ورځې نورې تېرې شوې.

سورګل بلې ودانۍ ته لاړ او الته يې هم د لفټ (بالابر) سره کار کوه.

هغه د لفټ په چالانولو، کښته کولو او پورته کولو سره ښه بلد شو.

ټولو به هغه ته لفټ کار ويل:

هغه هم خوشحاله و چې د مزدور کارۍ نه په تخنيکي کس (ميخانيک) واوښته.

الته به هم وختي ته او تر ناوخته به يې کار کوه.

هغه به ښځتې په لفټ کې پورته کوې.

يوه ورځ هغه په کار بوخت و او ښځتې يې پاس و خېږوې.

بيا د پاس کس ښځتې له لفټ نه کوتې ته د ننه کړې.

څه ځنډ تېر شو.

هغه د پاس کس باندې غږ کړ.

سورګل و ويل:

چېرته ورک شوې؟

هغه په سوچ کې و او سور ګل ته يې پام نه و.

سور ګل بيا پر هغه غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څاڅکو هار

..........................

د پاس کس د سور ګل غږ وا نه ورېد.

سور ګل په غصه شو او د لفټ مزی (لین) یې کش کړ.

د لفټ مزی (لین) خطا او د برېښنا پر مزو (لینونو)، کوم چې د سړک په غاړه کې شتون درلودل، ولږېد.

په دې وخت کې برېښنا شارټي وکړه او لینونه یوه په بل ولږېدل او د هغو نه اور غورزېدل (بادېدل) پیل شول.

برېښنا سورګل ته هم کلک ټکان ورکړ او هغه یې لرې وغورځاو.

انجینرانو او نورو کارکونکو منډې کړې.

سورګل یې د ځایه پورته او د خطر سیمې نه یې لرې کړ.

بل انجینر اور وژنې (اطفایې) ته یې زنګ و واهه.

په لږ وخت کې د اور وژنې کار کونکي او د برېښنا انجینران ورسېدل.

هغوی برېښنا پرې او اور مړ شو.

سورګل چې خورا ډار شوی و، ډېر خوشحاله شو.

او شکر یې و باسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاڅکو هار

..........................

************

سور ګل پوره څلور کاله په دې کمپنۍ کې په کار بوخت و.

هغه به د لفټ کار کوه او ترړلو او خلاصولو کي یې هم خورا چابک شو.

هغه په یوې ودانۍ کې چې شپږ پوړیزه وه، په کار بوخت و.

څو میاشتې تېرې شوې.

د ودانۍ د مخې کار خلاص شو.

د کمپنۍ مالک راغی او سور ګل ته یې و ویل:

زمونږ کار دلته پای ته ورسېد، سبا به د خپل ملګري سره وختې راځې او لفټ به په احتیاط سره خلاصوې تر څو یې په موټر کې بار او بلې ودانۍ ته ولېږدوو.

هغه و ویل:

سمه ده صیب.

هغه وختي له کوره د کار سیمې ته لاړ.

البته یې خپل ملګرى ولید.

هغه ته یې و ویل:

ته تر ما د لفټ په خلاصولو کې چټک (ګړندی) یې.

پاس و خېژه او هغه خلاص کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

ملګرى يې پاس، شيږم پوړ ته وخوت او د لفټ په خلاصولو يې پيل کړ.

په دې وخت کې موټر هم ورسېد، کوم کې چې غوښتل لفټ و ليږدوي.

د سور ګل ملګري لفټ په چټکۍ سره خلاص، د لفټ کيبل وښوېد او لفټ مخ پر ځمکې، حرکت وکړ.

لفټ د ستنو سره د موټر خوا ته وغورځېد.

د موټر چلونکي ځان له موټر نه وغورځاوه او پر ځمکه کلک ولګېد.

بلې خوا سورګل هم ځان په ځمکه غورځولى وه.

دواړه لږ ژوبل شوي وو.

د هغوى کوم ځاى مات نه وو.

په سور ګل او د هغه په ملګري خداى رحم وکړ.

که نه نو موټر او د کسانو د مړيني پېره به د هغوى په غاړه وه.

سورګل ډېرې پيسې وګټې.

بېرته هېواد ته، ستون شو.

واده يې وکړ.

په واده کې يې سازنده ونه بلل.

هغه خپل واده ډېر ساده نيولى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

په واده کې یې د قرآنکریم ختم وکړ.

خو ځل ملګرو یې هغه نڅا ته پورته کړ.

مګر هغه د ده کار نه ډېره وکړه او ویې ویل:

دا کار د شرعیت لحاظ نه، ښه نه دی.

بیا نورو همزولو یې هغه ملی اتڼ ته هم وغوښت، مګر هغه په اتڼ کې هم ګډ نه شو.

واده یې بې له سازه او سروده تېر کړ.

څه وخت تېر شو.

خدای ورته لمړۍ ګلالۍ لور ورکړه.

بیا بله ...؛

تر څلورو وروسته یې زوی پیدا شو.

اولادونه یې ډېر شو او شمېره یې اتو ته ورسېده.

هغوی لوی او د ښوونځي شوو.

هغوي یې په ښوونځیو کې ګډ (شامل) کړل.

هغه په بیلا بیلو ځایونو کې، دندې تر سره کړې.

بیا یې د جمهوریت په وخت کې د اجیر په توګه په یوه ریاست کې دنده تر لاسه کړه.

په دنده کې ډېر صادقه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

سهار تر ټولو به وختي راته او خپله دنده به يې تر سره کوه.

نفل لمونځونه او د قرآنکريم تلاوت به يې هم سهار وختي او په ورځګار وخت کې کوه.

هغه پر ټولو ګران وو.

د هر چاه سره به يې ښه سلوک کوه.

د مشرانو احترام او پر کشرانو مهربانه و.

سور ګل اوس هم ژوندی او په کار بوخت دی.

ټولو اولادونو يې ښوونځي پای ته رسولی دي او نورو لوړو زده کړو ته چمتوالی نيسي.

د هغه ټول اولادونه د عصري علومو زده کړو تر څنګ ديني علومو او د قرآنکريم زده کړې هم کړي دي.

اولادونه يې کولای شي قرآنکريم تلاوت کړي.

سور ګل اوس هم په کار مين سړی دی.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاڅکو هار

...........................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

.........................


۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................


.۳۹ برف ها آب میشود
.٤٠ رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
.٤١ آرزو و امید (ناول به زبان دری)
.٤٢ بوډا ښکاري (پښتو ناول)
.٤٣ د اسلامي معمارۍ پیل
.٤٤ نامنوني ژوي (پښتو ناول)
.٤٥ حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
.٤٦ مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
.٤٧ د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
.٤٨ حشمت خان د کلا معماري
.٤٩ د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
.٥٠ د وچو بنونه او پارکونو معماري
.٥١ د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
.٥٢ د ژرنده ګړې ماما مینه (پښتو ناول)
.٥٣ په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
.٥٤ شپنه ادې (پښتو ناول)
.٥٥ بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
.٥٦ د مینې تاو (پښتو ناول)
.٥٧ (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
.٥٨ مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
.٥٩ سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)
.٦٠ د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
.٦١ دځاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځاځکو هار

..........................

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٢. د افغانستان اصلي معماری ( مرادخانی )
٣. سرغندوی (ناب، مشهور) پوهړي
٤. لیونی لېوه
٥. کوشنۍ سوداګره
٦. سپین کارغه
٧. سور تنور
٨. خړه بیزو
٩. بندي مرغه
١٠. توده برستن
١١. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښاغلي کو هار

..........................

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Necklace of Drops







Written by: PHD Architect Hashmatullah Atmar

Date: May - June /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**